# د استر کتاب

## د پاچا فرمان او د وشتي ملکې نافرماني

۱-۲ خشایار شاه، د فارس پاچا د خپل شاهي تخت نه د شوش د ښار د بالاحصار
څخه په ټوله سیمه یعني په یوسلو اووه ویشتو ولایتونو باندې د هند نه تر ایتوپیا پورې
پاچاهي کوله. ۳ هغه د خپلې پاچاهۍ په دریم کال خپلو مامورینو او درباریانو ته
مېلمستیا وکړه. په مېلمستیا کې د فارس او ماد د لښکرو قوماندانان، رییسان او والیان حاضر
وو. ۴ د پوره شپږو میاشتو دپاره پاچا د خپلې پاچاهۍ زیاته شتمني، شان او شوکت او
خپله شاهانه لویي ننداري ته وړاندې کړل.

۵ وروسته له هغې پاچا ټولو خلکو ته، که شتمن وو یا غریب، د شوش په بالاحصار کې
د شاهي ماڼۍ د باغ په حویلۍ کې مېلمستیا ورکړه او پوره اووه ورځې دې مېلمستیا دوام
وکړ. ۶ حویلۍ په اسماني او د سپین کتان په پردو باندې ښکلې شوې وه چې په بانجاني
ښه کتاني رسیو باندې تړل شوې وې او د سپینو زرو په هغو کړیو کې ځای په ځای شوې
وې چې د مرمرو په ستنو باندې ځوړندې وې. هغه تختونه چې د سرو او سپینو زرو څخه
جوړ شوي وو، په هغې حویلۍ کې چې په سپینو مرمرو، سور بخنو کاڼو، صدف او فیروزې
باندې فرش شوی ؤ، ایښودل شوي وو. ۷ شراب یې د سرو زرو په پیالو کې ورکول او
هرې پیاله یې د بلې پیالې نه فرق درلود. پاچا خلکو ته د شاهانه شرابو په ورکولو کې ډېر
سخي ؤ ۸ او د څښلو دپاره کومه اندازه نه وه ټاکل شوې. پاچا د ماڼۍ ټولو خدمتګارانو
ته حکم کړی ؤ، هرڅوک چې څومره وغواړي هغومره څښلی شي.

۹ په همدې وخت کې وشتي ملکې هم د خشایار شاه په شاهي ماڼۍ کې ښځو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مېلمستیا ورکوله.

(۱۰) په اوومه ورځ کله چې خشایار شاه په شرابو باندې مست شوی ؤ اووه خصي شوي سړي یعنې مهومان، بزتا، حربونا، بګتا، ابغتا، زاتر او کرکس چې د هغه خدمت یې کاوه، راوغوښتل. (۱۱) پاچا هغوی ته امر وکړ چې ملکه وشتي د ده حضور ته راولي چې شاهي تاج یې په سر وي. ملکه یوه ښکلې ښځه وه او پاچا غوښتل چې د هغې ښکلا خپلو مامورینو او ټولو مېلمنو ته وښايي. (۱۲) خو کله چې خدمتګارانو د پاچا فرمان وشتي ملکې ته ورساوه، هغې د راتللو څخه انکار وکړ. پاچا په هغې باندې ډېر په قهر شو او له قهره تک سور شو.

(۱۳) پاچا عادت درلود چې د قانون د عملي کولو په اړه د ماهرو مشاورانو نظر ولري. نو ځکه یې خپل مشاوران راوغوښتل ترڅو د هغوی څخه پوښتنه وکړي چې څه باید وکړي. (۱۴) هغه کسان چې پاچا به زیات وخت ورسره مشوره کوله دا وو: کرشنا، شیتار، ادماتا، ترشیش، مرس، مرسنا او مموکان. دا د پارس او ماد په پاچاهۍ کې اووه لوړ رتبه مامورین وو. (۱۵) پاچا د دغو مامورینو څخه پوښتنه وکړه: «د قانون سره سم باید د وشتي ملکې سره څه وشي؟ ځکه چې هغې زما یعنې د خشایار شاه حکم نه دی منلی، هغه حکم چې د خدمتګارانو په لاس مې هغې ته استولی ؤ.»

(۱۶) بیا مموکان د پاچا او مامورینو په حضور کې په ځواب کې وویل: «وشتي ملکې نه یوازې د خشایار شاه په وړاندې بلکې د ټولو مامورینو او د پاچا د ټولو ولایتونو د ټولو قومونو په وړاندې هم سپکاوی کړی دی. (۱۷) د ملکې د سپکاوي خبره به د ټولو ښځو غوږونو ته ورسیږي او هغوی به دې ته وهڅوي چې د خپلو مېړونو سره سپک چلند وکړي. هغوی به وایي: ‹خشایار شاه امر وکړ چې وشتي ملکه دې د پاچا حضور ته راوستل شي، خو هغه رانغله.› (۱۸) کله چې د فارس او ماد د مامورینو ښځې د ملکې د چلند په هکله



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوري، نو دوی به په همدې ورځ خپلو مېړونو ته په دې هکله ووايي. نو په هرځای کې به
ښځې د خپلو مېړونو درناوی نه کوي او مېړونه به په خپلو ښځو باندې په قهر وي. ١٩ که
چېرې ستاسو د اعليحضرت خوښه وي چې يو شاهي حکم جاري کړئ چې وشتي دې بيا
هېڅکله د پاچا په حضور کې ښکاره نه شي. دا حکم دې د فارس او ماد په قوانينو کې
وليکل شي، ترڅو هغه هېڅکله بدل نه شي. همدارنګه پاچا دې د هغې د ملکې مقام يوې
بلې ښځې ته چې د هغې څخه بهتره وي، ورکړي. ٢٠ نو کله چې د پاچا فرمان د هغه په
ټولې پراخې امپراتورۍ کې اعلان شي، هغه وخت به ټولې ښځې خپلو مېړونو ته که هغه
شتمن وي يا غريب، درناوی کوي.»

٢١ په دې مشوره باندې پاچا او د هغه مامورين خوشحاله شول، نو پاچا هماغسې وکړل
لکه څنګه چې مموکان وړانديز کړی ؤ. ٢٢ هغه د خپلې امپراتورۍ هر ولايت ته د هغوی
په خپل خط او هر قوم ته په خپله ژبه پيغامونه واستول چې د هغې له مخې بايد مېړونه د
کورنۍ مشران وي او د خپلو خلکو په ژبه دې خبرې وکړي.

## د استر ملکه کېدل

٢ ١ څه موده وروسته چې کله د خشايار شاه قهر سوړ شو، هغه د وشتي، د هغه څه په
اړه چې هغې کړي وو او د هغه فرمان په اړه چې د هغې په هکله يې ورکړی ؤ، فکر کاوه.
٢ نو د پاچا ځينو خدمتګارانو چې هغه ته نژدې خلک وو، وړانديز وکړ: «د پاچا دپاره
دې ښکلې پېغلې ولټول شي. ٣ پاچا دې د خپلې امپراتورۍ په هر ولايت کې مامورين
وټاکي چې ټولې ښکلې پېغلې دې حرمسرای ته چې د شوش په بالاحصار کې دی، راولي.
هغوی دې د هيجای تر څارنې لاندې وي چې د پاچا خصي شوی خدمتګار دی او د
حرمسرای مسوول دی. هغوی ته دې د اړتيا وړ د سينګار شيان تيار کړي. ٤ نو بيا هغه
پېغله چې د پاچا خوښه شوه د وشتي په ځای دې ملکه شي.» دا مشوره د پاچا خوښه شوه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هماغسې يې وکړل.

۵ د شوش په بالاحصار کې يو يهودي چې مردخای نومېده، اوسېده. هغه د بنيامين د قبيلې د يايير زوی او د شمعي او قيس د اولادې څخه ؤ. ۶ هغه وخت چې د بابل پاچا نبوکدنصر د يهودا پاچا يهوياکين د ځينو يهوديانو سره د اسيرانو په توګه د اورشليم څخه د ځان سره بوتلو، د مردخای نيکه هم د اسيرانو له جملې څخه ؤ. ۷ د مردخای د کاکا يوه لور وه چې هدسه نومېده او د استر په نوم هم مشهوره وه. هغه ډېره ښايسته وه او ښکلی اندام يې درلود. کله چې د هغې مور او پلار مړه شول نو مردخای هغه په فرزندی ونيوله او د خپلې لور په شان يې روزله.

۸ نو کله چې د پاچا فرمان او حکم خپور شو، ډېرې پېغلې چې په هغو کې استر هم وه، د پاچا ماڼۍ ته چې د شوش په بالاحصار کې وه، راوستل شوې. هغوی د هيجای چې د حرمسرای مسوول ؤ تر څارنې لاندې وې. ۹ استر د هيجای په نظر کې ښه ښکاره شوه او هغه ورباندې مهربانه شو. هغه سمدلاسه د هغې دپاره د سينګار د شيانو او د ځانګړې ډوډۍ د تيارولو دپاره پروګرام جوړ کړ. د هغې دپاره يې اووه وينځې چې د پاچا د ماڼۍ څخه غوره شوې وې، وټاکلې او هغه يې د خپلو وينځو سره په حرمسرای کې ډېر ښه ځای ته يوړله.

۱۰ د مردخای د لارښوونې له مخې استر دا خبره پټه ساتلې وه چې هغه په کومې کورنۍ او قوم پورې اړه لري. ۱۱ مردخای به هره ورځ د حرمسرای په مخکې ښکته او پورته ګرځېده، ترڅو پوه شي چې هغه څنګه ده او څه ورباندې پېښيږي.

۱۲ د پېغلو دپاره د ښکلا تمرينونو پوره يو کال دوام مونده: شپږ مياشتې يوازې په بدن باندې د مر د کنډ د غوړيو غوړول او شپږ مياشتې نور د عطرونو او د سينګار د شيانو دپاره. وروسته له دې يې هره پېغله په وار سره د خشايار شاه حضور ته بيوله. ۱۳ کله چې يوه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېغله پاچا ته ورتلله، نو هغې کولای شول هرڅه چې يې غوښتل د حرمسرای ښځه د پاچا مانۍ ته د ځان سره یوسي. ⁽١٤⁾ هغه به ماښام مانۍ ته تلله، سهار به يې بل حرمسرای ته بیوله او د پاچا د وینځو د مسوول شعشغاز خصي تر ځارنې لاندې به وه. بیا به پاچا ته نه ورتله، خو چې کله به د پاچا هغه خوښه شوه، نو هغه به يې په نوم راغوښتله.

⁽١٥⁾ (استر د ابیحایل لور وه او د ده وراره مردخای هغه په فرزندۍ نیولې وه.) کله چې د استر وار راورسېده چې پاچا ته ورشي، نو د هیجای د لارښوونې له مخې یوازې هغه څه چې يې ورته ویلي وو چې هغه یوسي، له ځان سره يې یوړل. هرچا چې هغه لیدله، هغه به يې خوښوله. ⁽١٦⁾ په دې توګه د خشایار شاه د پاچاهۍ د اووم کال په لسمه میاشت چې د طیبت میاشت وه، استر يې په شاهي مانۍ کې د پاچا حضور ته راوستله. ⁽١٧⁾ پاچا د نورو ټولو پېغلو نه د هغې سره زیاته مینه کوله او هغې د نورو ټولو پېغلو ښځه د پاچا زیات پام او مهرباني تر لاسه کړه. د هغې په سر يې شاهي تاج کېښود او هغه يې د وشتي په ځای خپله ملکه جوړه کړه. ⁽١٨⁾ بیا پاچا خپلو ټولو مامورینو او درباریانو ته یوه لویه مېلمستیا د استر په ویاړ ورکړه. هغه د ټولو ولایتونو دپاره دا ورځ د رخصتۍ ورځ اعلان کړه او شاهانه سوغاتونه يې خلکو ته ووېشل.

## مردخای او د پاچا د ژوند ژغورل

⁽١٩⁾ کله چې پېغلې د دوهم ځل دپاره راغونډې شوې، مردخای د پاچا له خوا د مانۍ یو مهم ځای ته ګمارل شوی ؤ. ⁽٢٠⁾ استر دا خبره پټه ساتلې وه چې هغه په کومې کورنۍ او قوم پورې اړه لري، لکه څنګه چې مردخای هغې ته لارښوونه کړې وه. استر د خپل کوچنیوالي په شان د مردخای اطاعت کاوه.

⁽٢١⁾ په هغو ورځو کې کله چې مردخای په مانۍ کې د پاچا خدمت کاوه، د پاچا د مانۍ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوه خصيان، بګتان او تارش چې د پاچا د کوټې د دروازې ساتونکي وو، په خشايار شاه باندې په قهر شول او د هغه د قتل دسيسه يې جوړه کړه. ﴿۲۲﴾ خو مردخای د دې دسيسې څخه خبر شو او استر ملکې ته يې خبر ورکړ او هغې د مردخای له خوا دا خبره پاچا ته ورسوله. ﴿۲۳﴾ کله چې دغه خبر وڅېړل شو او ښکاره شوه چې رښتيا ده، نو پاچا دواړه خصيان په دار باندې وځړول. دا ټول د پاچا په حضور کې د امپراتورۍ د تاريخ په کتاب کې وليکل شول.

## د يهوديانو له منځه وړلو دپاره د هامان دسيسه

**۳** ﴿۱﴾ څه موده وروسته خشايار شاه د همداتا زوی هامان ته چې د اجاج د طايفې ؤ، ترفيع ورکړه. هغه يې په خپلې امپراتورۍ کې لومړنی وزير کړ. ﴿۲﴾ پاچا حکم وکړ چې ټول درباريان دې هامان ته د درناوي په خاطر خپل سرونه ټيټ کړي. هغوی ټولو همداسې وکړل، پرته له مردخای څخه.

﴿۳﴾ نو هغو نورو درباريانو چې د پاچا خدمت کاوه د مردخای څخه پوښتنه وکړه: «ته ولې د پاچا د حکم څخه سرغړونه کوې؟» ﴿۴﴾ هغوی به هره ورځ مردخای دې ته هڅاوه چې دا خبره ومني، خو هغوی ته يې غوږ نه نيوه. هغه به ويل: «زه يهودي يم او نه شم کولای چې هامان ته د درناوي سر ټيټ کړم.» نو هغوی هامان ته په دې هکله خبر ورکړ چې وګوري چې ايا هغه د مردخای رويه زغمي او که نه.

﴿۵﴾ کله چې هامان پوه شو چې مردخای ده ته د درناوي په خاطر نه په ګونډو کيږي نو هغه سخت په قهر شو. ﴿۶﴾ کله چې هغه پوه شو چې مردخای يهودي دی، هغه دا پرېکړه وکړه چې يوازې د مردخای وژل کافي نه دي. هغه دا پلان جوړ کړ چې هغه ټول يهوديان چې د خشايار شاه په ټوله امپراتورۍ کې دي، ووژل شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ د خشایار شاه د امپراتورۍ د دولسم کال په لومړۍ میاشت چې د نیسان میاشت وه، هامان امر وکړ چې د ده په وړاندې پوریم یعنې پچه واچوي چې د دې دسیسې د سرته رسولو دپاره کومه ورځ او کومه میاشت ښه ده. نو د دولسمې میاشتې یعنې د اذر د میاشتې دیارلسمه ورځ وټاکل شوه.

۸ نو هامان خشایار شاه ته ووېل: «یو قوم دی چې ستاسو د امپراتورۍ د ټولو ولایتونو د قومونو په منځ کې خپور شوی دی چې دود یې د هغو ټولو قومونو نه فرق لري او د پاچا د قانون څخه اطاعت نه کوي، دا د پاچا په ګټه نه ده چې هغوی وزغمي. ۹ که ستاسو اعلیحضرت خوښه وي، یو فرمان جاري کړئ چې هغوی ووژل شي. که تاسو دا کار وکړئ، نو زه وعده کوم چې درې سوه څلوېښت ټنه سپین زر به د شاهي اداري چارو دپاره شاهي خزانې ته ورکړم.»

۱۰ پاچا خپله د مهر ګوته چې په هغې باندې د پاچا فرمانونه مهر کېدل، د خپلې ګوتې راوویستله او هغه یې هامان د اجاجي همداتا زوی ته چې د یهودیانو دښمن ؤ، ورکړه. ۱۱ پاچا هغه ته ووېل: «دا قوم او د هغوی پیسې دې ستا وي، نو څنګه چې ستا خوښه وي هماغسې ورسره وکړه.»

۱۲ نو د لومړۍ میاشتې په دیارلسمه ورځ هامان د پاچا منشیان راوغوښتل. هغوی د هامان حکمونه هر ولایت ته د هغوی په خط او د هر قوم په ژبه د پاچا له خوا ټاکل شویو والیانو، د بېلابېلو ولایتونو نورو والیانو او د مختلفو قومونو مامورینو ته ولیکل. هغه حکمونه د خشایار شاه په نامه ولیکل او مهر شول. ۱۳ پیغامونه د دې حکم سره د قاصدانو په وسیله د پاچا ټولو ولایتونو ته ولېږل شول چې ټول یهودیان، زاړه او ځوان، ښځې او ماشومان دې په یوه ورځ یعنې د دولسمې میاشتې په دیارلسمه نېټه چې د اذر میاشت وه، ووژل شي. هغوی دې په بې رحمۍ سره ووژل شي او د هغوی مالونه دې لوټ شي. ۱۴ د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمان د متن يو نقل دې د قانون په توګه هر ولايت ته صادر شي او د هر قوم خلکو ته دې په ډاګه شي، ترڅو هغوی د هغې ورځې دپاره تيار اوسي.

⑮ د پاچا په حکم دا فرمان د شوش په بالاحصار کې خپور شو او قاصدانو دغه خبر په بيړه ولايتونو ته ورساوه. په داسې حال کې چې پاچا او هامان ناست وو او شراب يې څښل، خو د شوش په ښار کې وارخطايي او ګډوډي وه.

## د استر څخه د مردخای مرسته غوښتل

**۴** ① کله چې مردخای د هغو ټولو کارونو څخه چې شوي وو خبر شو، هغه له خفګانه خپل کالي وشکول، د وير کالي يې واغوستل او ايرې يې په سر باندې واچولې. بيا هغه ښار ته ووت او په لوړ اواز يې سخت ژړل. ② هغه د ماڼۍ تر دروازې پورې ورسېده. خو دننه لاړ نه شو، ځکه هيچا ته اجازه نه وه چې د وير د کاليو سره ماڼۍ ته ننوځي. ③ هر ولايت ته چې به د پاچا فرمان او حکم رسېده هلته به د يهوديانو په منځ کې لوی وير ؤ، هغوی به روژه نيوله، ژړل او وير به يې کاوه. ډېر به د وير په کاليو کې په ايرو باندې ناست وو.

④ کله چې د استر وينځې او خصيان راغلل او د مردخای په هکله يې هغې ته خبر ورکړ، نو ملکه ډېره خفه شوه. هغه ته يې کالي ورولېږل چې د وير د کاليو په ځای يې واغوندي، خو هغه ونه منل. ⑤ نو هغې هتاک چې د ماڼۍ د خصيانو څخه ؤ او د پاچا له خوا د هغې د خدمت دپاره ټاکل شوی ؤ، راوغوښت او ورته ويې ويل چې مردخای ته ورشي او دا معلومه کړي چې څه پېښ شوي دي او ولې داسې کوي.

⑥ نو هتاک د ښار هغه چوک ته چې د ماڼۍ دروازې ته مخامخ ؤ مردخای ته ورغی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ مردخای هغه د هرڅه څخه چې ورسره شوي وو او د هغو پیسو د پوره اندازې نه يې هم خبر کړ چې هامان د یهودیانو د وژلو دپاره وعده کړې وه چې په شاهي خزانه کې به يې اچوي. ۸ همدارنګه مردخای د هغه فرمان د متن یو نقل چې د هغوی د وژلو دپاره په شوش کې جاري شوی ؤ، هم هغه ته ورکړ چې استر ته يې وښايي او هغه خبره کړي. هغه ته يې وویل چې استر وهڅوي چې د پاچا حضور ته ورشي او د خپل قوم دپاره د هغه څخه رحم وغواړي.

۹ هتاک بېرته لاړ او د مردخای خبره يې استر ته ورسوله. ۱۰ استر دغه پيغام ورکړ چې بېرته يې مردخای ته يوسي: ۱۱ «د پاچا ټول درباريان او د شاهي ولايتونو خلک پوهېږي چې د هرچا دپاره، که ښځه وي يا نر چې پرته د پاچا د بلنې دننه د پاچا دربار ته ورشي، یو حکم دا دی چې هغه به ووژل شي. خو یوازې دا چې پاچا خپله د سرو زرو امسا د هغه خواته وراوږده کړي او د هغه ژوند وژغوري. خو دېرش ورځې کېږي چې پاچا زه غوښتلې نه يم.»

۱۲ کله چې مردخای د استر پیغام تر لاسه کړ، ۱۳ هغه بېرته دغه ځواب واستاوه: «فکر مه کوه چې ته د پاچا په ماڼۍ کې يې، نو د ټولو یهودیانو د جملې څخه به یوازې ته خلاصون ومومې. ۱۴ که چېرې ته په دې وخت کې غلې پاتې شې، نو د یهودیانو دپاره به د بل ځای څخه مرسته او خلاصون راپیدا شي. خو ته او ستا د پلار کورنۍ به ووژل شئ. څوک څه پوهېږي، کېدای شي چې ته د همداسې وخت دپاره ملکه شوې يې!»

۱۵ نو استر مردخای ته دا ځواب واستاوه: ۱۶ «لاړ شه او ټول یهودیان په شوش کې سره راغونډ کړه، ټول دې زما دپاره روژه ونیسي. درې شپې او درې ورځې مه څه خورئ او مه څه څښئ. زه او زما وینځې به هم ستاسو په شان روژه ونیسو. له هغې وروسته به زه پاچا ته ورشم که څه هم دا د قانون څخه سرغړونه ده. که چېرې زه د دې کار په خاطر مړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېږم نو مړه دې شم.»

۱۷ نو مردخای لاړ او هرڅه چې استر ورته امر کړی ؤ، هماغسې يې وکړل.

## پاچا او هامان ته د استر له خوا د مېلمستيا بلنه

**۵** ۱ د روژې په درېمه ورځ استر خپل شاهانه کالي واغوستل، بيا لاړه او د ماڼۍ په دننه حويلۍ کې د پاچا د شاهي تخت کوټې ته مخامخ ودرېدله. پاچا دننه ؤ او په همدې کوټې کې دروازې ته مخامخ په خپل تخت باندې ناست ؤ. ۲ کله چې هغه وليدل چې ملکه استر په حويلۍ کې ولاړه ده، پاچا په هغې مهربانه شو او خپله د سرو زرو امسا چې هغه په لاس کې وه، د هغې خواته وراوږده کړه. نو استر ورنژدې شوه او د هغه د امسا څوکې ته يې لاس ورووړ.

۳ پاچا پوښتنه وکړه: «ای ملکې استر، څه خبره ده؟ ووايه څه شی غواړې، حتی که هغه زما نيمه امپراتوري هم وي تاته به درکړل شي.»

۴ استر ځواب ورکړ: «که ستاسو اعليحضرت خوښه وي نن تاسو او هامان هغې مېلمستيا ته راشئ چې ستاسو دپاره مې تياره کړې ده.»

۵ پاچا ووېل: «هامان سمدلاسه راولئ، ترڅو د استر غوښتنه پوره شي.» نو پاچا او هامان د استر مېلمستيا ته لاړل. ۶ د شرابو د څښلو په وخت کې پاچا د استر څخه پوښتنه وکړه: «ماته ووايه چې ته څه غواړې هغه به درته درکړل شي. ستا غوښتنه څه ده؟ که ته وغواړې، زه به حتی نيمه امپراتوري هم درکړم.»

۷ استر ځواب ورکړ: «زما هيله او غوښتنه دا ده: ۸ که چېرې تاسو اعليحضرت زما



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره خوشحاله يئ، مهرباني وکړئ زما غوښتنه ومنئ، نو زه غواړم چې سبا تاسو او هامان هغې بلې مېلمستيا ته راشئ چې زه يې ستاسو دپاره تياروم. هغه وخت به تاسو ته ووايم چې زه څه غواړم.»

## هامان او د مردخای د وژلو دسيسه

٩ کله چې هامان د مېلمستيا څخه ووت، هغه د زړه له کومې خوشحاله ؤ. خو کله چې هغه مردخای د ماڼۍ په دروازه کې وليد، مردخای ورته د درناوي په خاطر ونه درېد او نه ورڅخه ووېرېده، نو هامان په هغه باندې ډېر په قهر شو. ١٠ خو هامان خپل ځان کنترول کړ او خپل کور ته لاړ. نو بيا هغه خپل ملګري خپل کور ته راوغوښتل او د خپلې ښځې زرش نه يې هم وغوښتل چې د دوی په غونډه کې ګډون وکړي. ١١ نو هامان ورته لافې ووهلې، چې هغه څومره شتمن دی، څومره ډېر زامن يې دي، پاچا هغه ته څومره لوړ مقام ورکړی دی او دا چې هغه يې د پاچا د نورو ټولو مامورينو نه لوړ کړی دی. ١٢ هامان زياته کړه: «حتی ملکې استر پرته له پاچا او ما هېڅوک هغې مېلمستيا ته چې هغې تياره کړې وه، نه دی غوښتی. همدارنګه هغې د سبا دپاره هم زه او هم پاچا د مېلمستيا دپاره غوښتي يو. ١٣ خو ترڅو چې زه مردخای يهودي وينم چې د ماڼۍ په دروازه کې ناست دی دا ټول شيان زما دپاره هېڅ ارزښت نه لري.»

١٤ د هغه ښځې زرش او ټولو ملګرو يې هغه ته وويل: «د درويشت مترو په لوړوالي يو دار جوړ کړه او سبا سهار د پاچا څخه وغواړه چې مردخای په هغه باندې ځوړند شي. بيا کولای شې چې په خوشحالۍ سره مېلمستيا ته لاړ شې.»

دغه نظر د هامان خوښ شو او امر يې وکړ چې دار دې جوړ شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پاچا او د مردخای عزت

۶ ۞۱ په هغه شپه پاچا ته هېڅ خوب نه ورته، نو هغه امر وکړ چې د امپراتورۍ د پېښنو تاريخي کتاب راوړئ او ماته يې په لوړ اواز ولولئ. ۞۲ په هغه کې يې داسې ليکنه وموندله چې څنګه مردخای د پاچا د وژلو هغه دسيسه چې د پاچا د کوټې د دروازې د دوو ساتونکو يعنې بګتان او تارش خصيانو له خوا ترتيب شوې وه، ښکاره او بربنډه کړه.
۞۳ پاچا پوښتنه وکړه: «د دې کار په خاطر مونږ مردخای ته څومره عزت او انعام ورکړی دی؟»

د هغه خدمتګارانو په ځواب کې وويل: «د هغه دپاره هېڅ نه دي شوي.»

۞۴ پاچا پوښتنه وکړه: «ايا زما د درباريانو څخه څوک په ماڼۍ کې شته؟» نو هامان په دې وخت کې د ماڼۍ باندينۍ حوېلۍ ته راغی. هغه د پاچا څخه غوښتل مردخای په هغه دار باندې چې د هغه دپاره يې تيار کړی ؤ، ځوړند کړي.

۞۵ د هغه خدمتګارانو په ځواب کې وويل: «هامان دلته په دربار کې دی.»

پاچا وويل: «هغه دننه راولئ.»

۞۶ کله چې هامان دننه راغی، نو پاچا ورڅخه پوښتنه وکړه: «د هغه سړي سره چې پاچا غواړي عزت ورته ورکړي، بايد څه وکړو؟»

نو بيا هامان د خپل ځان سره فکر وکړ: «داسې څوک شته چې پاچا غواړي هغه ته زما نه زيات عزت ورکړي؟» ۞۷-۞۸ نو هامان د پاچا د پوښتنې په ځواب کې وويل: «امر وکړئ هغه شاهانه چپنه چې پاچا يې اغوندي او هغه اس چې پاچا ورباندې سپرېږي او په سر يې شاهي تاج وي، هغه ته راوړئ. ۞۹ بيا يو لوړ رتبه مامور ته دنده وسپارئ چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه شاهي چپنه هغه ته ورواغوندي، په اس باندې يې سپور کړي، د ښار په چوک کې دې وګرځوي او په لوړ اواز دې ووايي: ‹وګورئ، د هغه سړي سره چې پاچا غواړي هغه ته عزت ورکړي داسې عمل کيږي!›»

١٠ بيا پاچا هامان ته وويل: «سمدلاسه لاړ شه، چپنه او اس د مردخاى يهودي دپاره چې د ماڼۍ په دروازې کې ناست دى، تيار کړه. لکه څنګه چې تا وړانديز وکړ هماغسې وکړه، پام کوه چې کوم شى دې هېر نه شي.»

١١ نو بيا هامان چپنه او اس تيار کړل. مردخاى ته يې چپنه واغوستله، هغه يې په اس باندې سپور کړ، د ښار په چوک کې يې وګرځاوه او د هغه په مخکې يې چيغې وهلې: «ګورئ، د هغه سړي سره چې پاچا غواړي هغه ته عزت ورکړي داسې عمل کيږي!»

١٢ وروسته بيا مردخاى بېرته د ماڼۍ دروازې ته راستون شو. خو هامان په داسې حال کې چې ډېر غمجن ؤ او د شرم نه يې خپل مخ پټ کړى ؤ، په بيړه خپل کور ته لاړ. ١٣ هرڅه چې ورباندې پېښ شوي وو هغه يې خپلې ښځې زرش او خپلو ملګرو ته بيان کړل. د هغه ښځې زرش او د هغه ماهرو مشاورانو هغه ته وويل: «ته د مردخاى په وړاندې کمزورى کيږې. هغه يهودي دى، په هغه باندې بريالى کېداى نه شې. هغه به په رښتيا تاته ماتې درکړي.»

١٤ په داسې حال کې چې هغوى لا خبرې کولې د ماڼۍ خصيان راورسېدل چې هامان په بيړه هغې مېلمستيا ته بوځي چې استر تياره کړې وه.

## په دار باندې د هامان ځړول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ۱ نو پاچا او هامان د ډوډۍ خوړلو دپاره د استر مېلمستيا ته لاړل. ۲ د دوهم ځل دپاره چې هغوی شراب څښل، پاچا بيا پوښتنه وکړه: «ای استر ملکې، ته څه غواړې؟ هغه به درکړل شي. ستا غوښتنه څه ده؟ که ته وغواړې، زه به حتی نيمه امپراتوري هم درکړم.»

۳ استر ملکې په ځواب کې ووېل: «ای پاچا! که تاسو په ما باندې مهرباني کوئ او که چېرې ستاسو خوښه وي، نو بيا زما ژوند وژغورئ. دا زما غوښتنه ده. او زما د قوم ژوند هم وژغورئ. دا زما هيله ده. ۴ ځکه چې زه او زما قوم په بې رحمۍ سره د وژلو دپاره خرڅ شوي يو. که چېرې يوازې د غلامانو او وينځو په شان خرڅ شوي وای، نو زه به غلې پاتې شوې وای او په دې هکله به مې تاسو نه په تکليف کولئ. خو مونږ د وژلو او نابودۍ سره مخامخ يو!»

۵ خشايار شاه د استر ملکې نه پوښتنه وکړه: «هغه څوک دی؟ هغه سړی چېرته دی چې د داسې کار جرات لري؟»

۶ استر ځواب ورکړ: «زمونږ دښمن او زمونږ ځورونکی همدا بد سړی هامان دی!»

په دې وخت کې هامان د پاچا او ملکې نه ډېر ووېرېد. ۷ پاچا په ډېر قهر سره د مېلمستيا نه پاڅېد او د ماڼۍ باغ ته لاړ. هامان پوه شو چې پاچا د هغه د اعدامولو اراده کړې ده، نو هغه په کوټې کې پاتې شو چې استر ملکې ته د خپل ژوند په خاطر زارۍ وکړي. ۸ هامان د استر په تخت باندې ځان وغورځاوه چې هغې ته د رحم دپاره زارۍ وکړي. په دې وخت کې پاچا بېرته د مېلمستيا سالون ته راستون شو او هامان يې د استر په تخت باندې ولېد. پاچا چيغې کړې: «ايا دا سړی همدلته زما په مخکې زما خپلې ماڼۍ کې ملکه بې عزته کوي؟»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښنګه چې د پاچا د خولې نه دا خبره راووتله، خصیانو د هامان مخ پټ کړ. ۹ په دې وخت کې حربونه چې د پاچا د خصیانو د ډلې څخه ؤ او د هغه خدمت یې کاوه، وویل: «هامان په خپل کور کې د درویشت مترو په لوړوالي یو دار جوړ کړی دی، ترڅو مردخای چې ستاسو اعلیحضرت ژوند یې ژغورلی دی په هغه باندې وځړوي.»

پاچا امر وکړ: «هامان په هغه باندې وځړوئ!»

۱۰ نو هامان په هغه دار باندې چې هغه د مردخای دپاره جوړ کړی ؤ وځړول شو. بیا د پاچا قهر سوړ شو.

## د پاچا له خوا د مردخای ترفیع

۸ ۱ په هماغه ورځ خشایار شاه د یهودیانو د دښمن یعنې هامان ټوله شتمني او جایداد ملکې استر ته ورکړ. استر پاچا ته وویل چې مردخای د هغې خپلوان دی. وروسته له دې مردخای ته اجازه وه چې د پاچا حضور ته ورشي. ۲ پاچا خپله د مهر ګوته چې د هامان څخه یې بېرته اخیستې وه، راوویستله او مردخای ته یې ورکړه. بیا استر مردخای د هامان د شتمنۍ او جایداد مسوول وټاکه.

## د یهودیانو په خاطر د پاچا فرمان

۳ استر یوځل بیا د پاچا سره خبرې وکړې، د هغه پښو ته پرېوتله او وېې ژړل. استر هغه ته زارې وکړه چې د اجاجي هامان ناوړه پلان چې د یهودیانو په خلاف یې سنجولی ؤ، شنډ کړي. ۴ نو کله چې پاچا خپله د سرو زرو امسا د استر خواته وراوږده کړه، هغه راپاڅېدله او د پاچا په مخکې ودرېدله. ۵ هغې وویل: «که ستاسو اعلیحضرت خوښه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي او زما خيال او پروا ساتئ او زما سره مينه لرئ، نو مهرباني وکړئ يو فرمان خپور کړئ چې د حجاجي د همداتا د زوی هامان د هغو حکمونو د عملي کولو څخه دې مخنيوی وشي چې په ټوله امپراتوری کې يې د يهوديانو د له منځه وړلو دپاره ورکړي دي. ۶ څکه زه هغه مصيبت او بلا څنګه زغملای شم چې زما قوم او خپلوان زما په مخکې ووژل شي؟»

۷ نو بيا خشايار شاه استر ملکې او يهودي مردخای ته وويل: «ګورئ، ما هامان په دې خاطر په دار وځړاوه چې د يهوديانو په خلاف يې دسيسه جوړه کړې وه او د هغه شتمني او جايداد مې استر ته ورکړ. ۸ اوس تاسو کولای شئ چې په خپله خوښه يو بل فرمان د يهوديانو په خاطر د پاچا په نوم وليکئ او د پاچا مهر ورباندې ولګوئ. څکه هغه فرمان چې د پاچا په نوم ليکل شوی وي او د هغه مهر ورباندې لګېدلی وي هغه لغوه کېدای نه شي.»

۹ نو بيا مردخای د درېمې مياشتې په درويشتمه ورځ چې د سيوان مياشت وه، د پاچا منشيان راوغوښتل او يهوديانو، د پاچا له خوا ټاکل شويو واليانو، د بېلابېلو ولايتونو نورو واليانو او مامورينو او د هند نه تر ايتوپيا پورې د يوسلو اووه ويشتو ولايتونو چارواکو ته يې ليکونه وليکل. هر ولايت ته يې د هغوی د خط او هر قوم ته د هغوی د ژبې سره سم او يهوديانو ته يې هم د هغوی د خط او ژبې سره سم ليکونه وليکل. ۱۰ مردخای د خشايار شاه په نوم ليکونه وليکل او شاهي مهر يې ورباندې ولګاوه. ليکونه يې هغو اس سوارانو ته چې د پاچا په تېزو اسونو باندې سپاره وو، وسپارل.

۱۱ د دې فرمان سره سم د پاچا له خوا يهوديانو دا اجازه درلودله چې په هر ښار کې د خپلې دفاع دپاره يوځای شي. که چېرې وسله وال کسان چې د هر قوم يا هر ولايت څخه وي او په يهوديانو، د هغوی په ښځو او د هغوی په ماشومانو حمله وکړي، هغوی حق لري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خپل دښمنان ووژني او تباه يې کړي او مالونه يې لوټ کړي. ⑫ هغه ورځ چې د يهوديانو د ټول وژنې په خاطر د خشايار شاه په ټولو ولايتونو کې ټاکل شوې وه، هغه د دولسمې مياشتې يعنې د اذر د مياشتې ديارلسمه ورځ وه. ⑬ د فرمان متن بايد د قانون په توګه هر ولايت ته صادر شي او د هر قوم خلکو ته دې په ډاګه شي، ترڅو يهوديان په هغې ورځې د خپلو دښمنانو نه د بدل اخيستلو دپاره تيار اوسي. ⑭ قاصدان د پاچا په حکم په شاهي اسونو باندې سپاره شول او په ډېرې بيړې سره روان شول. دا فرمان د شوش په بالاحصار کې هم خپور شو.

⑮ مردخای چې شاهانه ابي او سپين رنګه کالي يې اغوستي وو، د سرو زرو لوی تاج يې په سر ؤ او د ښه کتان بانجاني چپنه يې اغوستې وه، د پاچا د حضور څخه لاړ. د شوش د ښار خلکو د خوشحالۍ چيغې وهلې. ⑯ د يهوديانو دپاره دا د خوشحالۍ او ارامۍ وخت ؤ او نورو خلکو د هغوی عزت کاوه. ⑰ هر ولايت، هر ښار او هر ځای ته به چې د پاچا فرمان ورسېده، هلته به د يهوديانو په منځ کې خوښي او خوشحالي وه، مېلې به يې کولې او جشنونه به يې نيول. د نورو قومونو ډېرو خلکو خپل ځانونه يهوديان اعلان کړل، ځکه چې هغوی د يهوديانو څخه وېرېدل.

## يهوديان او د خپلو دښمنانو له منځه وړل

٩ ① د اذر د مياشتې ديارلسمه ورځ، يعنې هغه ورځ چې لومړی شاهي فرمان بايد عملي شي راورسېدله، په دې ورځ د يهوديانو دښمنان په دې هيله وو چې په هغوی باندې بريالي شي. خو د دې په ځای، يهوديانو په هغوی باندې برې وموند. ② يهوديان د خشايار شاه د امپراتورۍ د ټولو ولايتونو په ټولو ښارونو کې سره راغونډ شول چې په هغو خلکو باندې بريد وکړي چې غواړي دوی ته زيان ورسوي. هېڅوک نه شو کولای چې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په وړاندې ودریږي، ځکه چې د نورو ټولو قومونو خلک د یهودیانو څخه وېرېدل.
٣ د ولایتونو ټولو مامورینو، د پاچا له خوا ټاکل شویو والیانو، نورو والیانو او شاهي
استازو د یهودیانو سره مرسته کوله، ځکه چې هغوی ټول د مردخای څخه وېرېدل. ٤
مردخای په ماڼۍ کې یو قوي سړی ؤ، په ټولو ولایتونو کې هغه مشهور شو او د وخت په
تېرېدو سره هغه نور هم قوي شو.

٥ نو څه چې د یهودیانو خوښه وه د خپلو دښمنانو سره یې وکړل. خپل ټول دښمنان یې
په تورو باندې ووهل، هغوی یې ووژل او له منځه یې یووړل. ٦ یهودیانو د شوش په
بالاحصار کې پنځه سوه کسان ووژل او له منځه یې یووړل. ٧ همدارنګه هغوی
فرشنداطا، دلفون، اسفاتا، ٨ فوراتا، ادلیا، اریداتا، ٩ فرمشتا، اریسای، اریدای او
ویزاتا هم ووژل. ١٠ دا د همداتا د زوی هامان یعني د یهودیانو د دښمن لس زامن وو.
خو هغوی هېڅ شی لوټ نه کړ.

١١ په هماغه ورځ پاچا ته خبر راورسېد چې د شوش په بالاحصار کې څومره خلک
وژل شوي دي. ١٢ بیا پاچا استر ملکې ته وویل: «یهودیانو یوازې د شوش په بالاحصار
کې پنځه سوه کسان وژلي دي چې په هغو کې د هامان لس زامن هم شامل دي. نو هغوی به
د پاچا په نورو ولایتونو څومره خلک وژلي وي؟ اوس ته نور څه غواړې؟ هغه به درکړل
شي. ستا نوره غوښتنه څه ده چې زه یې درکړم؟»

١٣ استر په ځواب کې وویل: «که ستاسو اعلیحضرت خوښه وي، د شوش یهودیانو ته
اجازه ورکړئ چې نننی فرمان دې سبا هم عملي شي او د هامان د لسو زامنو مړي دې په
دار باندې وځړول شي.» ١٤ نو پاچا حکم وکړ چې دا وړاندیز دې عملي شي. دا فرمان
په شوش کې اعلان شو او د هامان د لسو زامنو مړي په دار باندې وځړول شول. ١٥ د
شوش یهودیان د اذر د میاشتې په څوارلسمه ورځ د شوش په ښار کې هم راغونډ شول او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درې سوه کسان يې هلته ووژل، خو هغوی هيڅ شی لوټ نه کړ.

١٦ يهوديان په ولايتونو کې هم سره راغونډ شول چې د خپلو ځانونو څخه دفاع وکړي او د خپلو دښمنانو له شره خلاص شي. هغوی پنځه اويا زره کسان چې د دوی څخه يې کرکه لرله ووژل، خو هيڅ شی يې لوټ نه کړ. ١٧ دا وژنه د اذر د مياشتې په ديارلسمه ورځ وشوه او په څوارلسمه ورځ پوره ارامي وه او دا ورځ يې د خوشحالی او جشن ورځ وټاکله.
١٨ خو هغه يهوديان چې په شوش کې وو، په ديارلسمه او څوارلسمه ورځ يې خپل دښمنان ووژل. په پنځلسمه ورځ پوره ارامي وه او په دې ورځ يې جشن ونيوه او خوشحالي يې وکړه. ١٩ له دې امله هغه يهوديان چې د دېوال لرونکو ښارونو دباندې اوسيږي د اذر د مياشتې په څوارلسمه ورځ د خوشحالی جشن لمانځي. په دې ورځ هغوی مېلمستياوې کوي او يو بل ته ډوډی د سوغات په توګه ورکوي.

د پوريم جشن

٢٠ مردخای دا ټولې پېښې وليکلې او د خشايار شاه د ټولو ولايتونو يهوديانو ته يې که لېرې وو او که نژدې، ليکونه واستول، ٢١ چې د اذر د مياشتې څوارلسمه او پنځلسمه ورځ بايد هر کال ولمانځي. ٢٢ دا هغه ورځې وې چې يهوديانو د خپلو دښمنانو څخه ارامي وموندله او دا هغه مياشت وه چې د هغوی غم په خوښی او وير يې د خوشحالی په جشن بدل شو. هغوی ته ووېل شول چې دا ورځې دې په مېلمستياوو ولمانځي او يو بل ته او غريبانو ته ډوډی د سوغات په توګه ورکړي. ٢٣ نو يهوديانو د مردخای د لارښوونو څخه پيروي وکړه او هغوی چې څنګه دا جشن پيل کړی ؤ، هر کال به يې لمانځه.

٢٤ هامان د همداتا زوی چې د اجاج د طايفې څخه ؤ او د ټولو يهوديانو دښمن ؤ، پچه اچولې وه (چې هغوی د پوريم په نوم يادوله) او په دې توګه يې د يهوديانو د تباهی ورځ ټاکلې وه. هغه دا پلان جوړ کړی ؤ چې هغوی له منځه يوسي. ٢٥ خو کله چې دې خبرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته د پاچا پام شو، نو هغه ليکلی فرمان ورکړ: هغه ناوړه پلان چې هامان د يهوديانو په خلاف سنجولی ؤ هغه دې بېرته په هغه باندې عملي شي او هغه او د هغه زامن دې په دار باندې وځړول شي. (۲۶)-(۲۷) (له دې امله دا ورځې د پوريم په نوم يادېږي چې د پور د کليمې اخيستل شوې ده.) يهوديانو د مردخای د هغه ليک په خاطر چې هغه ليکلی ؤ او هم هرڅه چې په هغو باندې پېښ شوي وو، دا ټول يې د خپلو ځانونو، خپلې اولادې او د هغو ټولو دپاره چې يهوديان کيږي د يو دود په توګه غوره کړ. يهوديان به هر کال په ټاکلي وخت دا دوه ورځې د مردخای د لارښوونو له مخې په منظمه توګه ولمانځي. (۲۸) دا پرېکړه وشوه چې د هر يو راتلونکي يهودي نسل هره کورنۍ دې په هر ولايت او هر ښار کې چې وي، د پوريم دا ورځې د تل دپاره په ياد وساتي او هغه دې ولمانځي او هغه دې نه هېروي.

(۲۹) نو د ابيحايل لور استر ملکې د مردخای په مرسته د هغه واک په لرلو سره چې هغې درلود، دوهم ليک وليکه چې د پوريم په اړه لومړنی ليک تاييد کړي. (۳۰) دا ليک د ټولو يهوديانو په نامه ؤ او د هغه نقلونه د خشايار شاه د امپراتورۍ ټولو يوسلو اووه ويشت ولايتونو ته واستول شول. په هغه کې د يهوديانو دپاره د سولې او امنيت غوښتنه شوې وه. (۳۱) هغوی او د هغوی اولادونو ته لارښوونه شوې وه لکه څنګه چې هغوی د روژې نيولو او وير کولو مراسم په ځای کول، هماغسې دې د پوريم ورځې په ټاکلي وخت ولمانځي. دا حکم د يهودي مردخای او استر ملکې له خوا شوی ؤ. (۳۲) د استر فرمان د پوريم قوانين تاييد کړل او هغه په يو کتاب کې وليکل شو.

## د خشايار شاه او مردخای شان او شوکت

**۱۰** (۱) خشايار شاه په خپلې امپراتورۍ کې هر يو دې ته مجبور کړ چې باج ورکړي، حتی هغه خلک چې د درياب څخه لېرې او يا د درياب په غاړه اوسېدل. (۲) هغه ټول لوی او عجيبه کارونه چې خشايار شاه کړي وو او هغه پوره کيسه چې هغه څنګه مردخای



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته لوړ مقام ورکړ، هغه د ماد او فارس د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.
۳ يهودي مردخای د خشایار شاه څخه وروسته دوهم کس ؤ. يهوديانو هغه ته په درنه
سترګه کتل او وربانديې ګران ؤ. هغه د خپلو خلکو د ښېګڼې او د هغوی د ټولې اولادې د
ارامی دپاره غبږ پورته کاوه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.